مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح سعیدی ۲۰۲۴/۰۴/۱۳

# د اسلامي قوانینو تطبیق

خبرې سمې خو وشاته یې کړې!
هو نړۍ حق نه لري زمونږ د دین مفتي شي اوزمونږ پر ځای، د افغان ملت پر ځای، مونږ ته د ارزشونو په تشخیص کې ، تصمیم ونیسي !
هو د حدیث منکر کافر دی !
خوته اول دا ثابت کړه چي دا څه چي ته یې حدیث بولې، حدیث دی که نه دی؟
د اسلام د دین د احکامو تطبیق، د حدودو او تعزیراتو تطبیق سره مسلمان مخالفت نه شي کولای اونباید وکړي، خو آیا عمر فاروق رض د خپل خلافت دور کې، ولې بو کال قطع ید حد تطبیق د سرقې په جزاء کې، په تآخیر واچوه او حکم د حد یې ملتوي کړ؟
زه په کلکه باورمند یم چي اوس اوس د طالبانو د موجود حاکمیت بنیادي خبرې، یعنې د مشروعیت د سؤال تر څنګ د اسلامي امارت د ظرفیتونو محدودیت، د مشروع، مدونو اسلامي جزایی قواعدو او اصولو د مشروعیت مرجع رسمي نه شتون او... ،دي. له دغو او ورته شتو سترو شبهاتو وجود د کل په ډول او په انفرادي قضایاوو کې ثابت دي. او د نص صراحت دی، چي الحدود تسقط بالشبهات - دحدودپ جزاګانو تطبیق د شبهاتو د وجود په صورت کې ساقطیږي !لدې کبله د اسلامي عقوباتو د تطبیق صلاحیت او عدالت په اوسني حالاتو کې په افغانستان کې شرایط نه وینم. د حدودي احکامو د تطبیق لپاره پوره پوره تابیاوې نیول په کار دي. نو دغه برخه کې د أوس لپاره په تعویق اچولو او لا زیاد دقت، ته سفارش کوم .
اوسنی تطبیق به د اسلامي عدالت لپاره نه، بلکې سیاسي استخباراني ګټه ترې واخیستل شي !

والله اعلم باالصواب.
داکتر صلاح سعیدی
۲۰۲۴/۰۴/۱۱
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ